دافغانستان اسلامي جمهوریت
دعدلیې وزارت

# رسمي جریده

- د ماشومانو د سرپرستۍ قانون .
- دځانګړو محکمو دتشـــکیل او واک قانون .

- قـــانون سرپرستی اطفال .
- قانون تشکیل و صلاحیت محاکم خاص .

دخپریدو نېټه:د۱۳۹۳ هـ.ش کال د وري دمیاشتې(۲۳)
پرله پسې نمبر: (۱۱۳۰)

تاریخ نشـر: (۲۳) حمل سـال ۱۳۹۳ هـ . ش
نمبر مسلسل: (۱۱۳۰)

**در این شماره**

**۱- قانون سرپرستی اطفال از صفحه (۱_۱۹ ).**

**۲- قانون تشکیل و صلاحیت محاکم خاص صفحه (۲۰_۳۱).**

**د امتیـــاز خاوند: د عدلیـــي وزارت**

**مسئول چلوونکی: قانونمل محمدرحیم "دقیق"**

**۰۷۰۰۵۸۷۴۵۷**

**د دفتر تیلفون: ۰۷۵۲۰۵۲۷۰۹**

**مرستیـــال: نورعلم ۰۷۰۰۱۴۷۱۷۸**

**مهتمـــم: محمد جان ۰۷۸۳۳۰۶۹۸۲**

**وب سایت: www.moj.gov.af**

قیمت این شماره: (۴۰) افغانی

تیراژ چاپ: (۳۰۰۰) جلد

مطبعه : بهیـــــر

آدرس: وزارت عدلیه، ریاست نشرات و ارتباط عامه، چهارراهی پشتونستان، کابل

**د ماشومانو د سرپرستۍ د قانون د توشېح په هکله، دا فغانستان د اسلامي جمهوریت د رئیس فرمان**

ګڼه: (۱۳۵)

نېټه: ۳/ ۱۲/ ۱۳۹۲

**لومړۍ ماده:**

د افغانستان د اساسي قانون د (۶۴) مادې د(۱۶) فقرې دحکم له مخې، د ماشومانو د سرپرستۍ قانون چې د ملي شــوري د مجلسینو دګډ هیئت د ۱۳۹۲/۱۰/۳۰ نېټې (۱۰۹) ګڼې پرېکړې پر بنسټ، په (۵) فصلونو او (۲۷) مادو کې تصویب شوی دی، توشېح کوم.

**دوه یمه ماده:**

دغه فرمان له قانون او د ملي شوري د ګډ هیئت له پرېکړې سره یو ځای دې، پــه رسمي جریده کې خپور شي.

**حامد کرزی**

**دافغانستان داسلامي جمهوریت رئیس**

**فرمان رئیس جمهوری اسلامی افغانستان در مورد توشیح، قانون سرپرستی اطفال**

شماره: (۱۳۵)

تاریخ: ۱۳۹۲/۱۲/۳

**مادۀ اول:**

به تأسی از حکم فقرۀ (۱۶) مادۀ (۶۴) قانون اساسی افغانستان، قانون سرپرستی اطفال را که بر اساس فیصــلۀ شــماره (۱۰۹) مؤرخ ۱۳۹۲/۱۰/۳۰ هیئت مختلط مجلسین شورای ملی بداخل (۵) فصل و(۲۷) ماده به تصویب رســیده است، توشیح می دارم.

**مادۀ دوم:**

این فرمان همراه با قانون وفیصلۀ هیئت مختلط مجلسین شورای ملی درجریدۀ رسمی نشر گردد.

**حامد کرزی**

**رئیس جمهوری اسلامی افغانستان**

**دا فغانستان اسلامي جمهوري دولت**

**ملي شوري**

**گڼه: (۱۰۹)**

**نېټه: ۱۳۹۲/۱۰/۳۰**

**د ماشومانو دسرپرستۍ دقانون دطرح په هکله دګډ هيئت**

**فيصله**

دافغانستان داساسي قانون دسلمې مادې دحکم پر بنسټ دملي شوري ددواړو مجلسونو له اوو، اوو تنو څخه جوړ شوی ګډهيئت د ماشومانو دسرپرستۍ د قانون طرحه له يو شمېر تعديلونو سره په (۵) فصلونو او(۲۷) مادو کې د۱۳۹۲/۱۰/۳۰ نېټې په غونډه کې فيصله کړ.

دګډ هيئت رئيس

څارنوال عبدالرووف انعامي

د ګډ هيئت مرستيال

مولوي غلام محی الدين منصف

**دولت جمهوری اسلامی افغانستان**

**شورای ملی**

**شماره: (۱۰۹)**

**تاریخ: ۱۳۹۲/۱۰/۳۰**

**فیصله**

**هیئت مختلط درمورد طرح قانون سرپرستی اطفال**

به تأسی از حکم مادۀ صدم قانون اساسی افغانستان، هیئت مختلط مجلسین شورای ملی به ترکیب هفت، هفت نفر از اعضای هر مجلس طرح قانون سرپرستی اطفال را با یک سلسله تعدیلات به داخل (۵) فصل و(۲۷)ماده درجلسۀ مؤرخ ۱۳۹۲/۱۰/۳۰ فیصله نمود.

رئیس هیئت مختلط

څارنوال عبالرووف انعامی

معاون هیئت مختلط

مولوی غلام محی الدین منصف

## فهرست مندرجات قانون سرپرستی اطفال

### فصل اول

### احکام عمومی


| ماده | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| مادهٔ اول: | مبنی | ۱ |
| مادهٔ دوم: | هدف | ۱ |
| مادهٔ سوم: | اصطلاحات | ۲ |
| مادهٔ چهارم: | عدم توارث | ۳ |


### فصل دوم

### شرایط، حقوق ووجایب سرپرست


| ماده | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| مادهٔ پنجم: | شرایط سرپرست | ۳ |
| مادهٔ ششم: | شرایط طفل | ۴ |
| مادهٔ هفتم: | حقوق ووجایب متقابل | ۶ |
| مادهٔ هشتم: | موانع تصمیم عقد نکاح | ۷ |
| مادهٔ نهم: | درخواست سرپرستی | ۷ |
| مادهٔ دهم: | تعدد درخواست کنندگان | ۸ |
| مادهٔ یازدهم: | تحت سرپرستی قراردادن طفل نسبت عدم تأمین نفقه | ۹ |


### فصل سوم

### اجراآت قضایی


| ماده | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| مادهٔ دوازدهم: | تصمیم محکمه | ۹ |
| مادهٔ سیزدهم: | تعهد درخواست کننده | ۱۰ |
| مادهٔ چهاردهم: | رعایت مصلحت طفل | ۱۱ |

مادهٔ پانزدهم: سرپرستی آزمایشی ........................ ۱۱
مادهٔ شانزدهم: صدورقرارسرپرستی الی مرحلهٔ رشد............... ۱۱
مادهٔ هفدهم: خروج طفل از کشور.......................... ۱۲

## فصل چهارم

## انصراف وفسخ سرپرستی

مادهٔ هجدهم: انصراف از سرپرستی.......................... ۱۳
مادهٔ نزدهم: تقاضای فسخ.................................. ۱۳
مادهٔ بیستم: فقدان شرایط وفوت سرپرست..................... ۱۴
مادهٔ بیست ویکم لغو سرپرستی.............................. ۱۵

## فصل پنجم

## احکام نهایی

مادهٔ بیست ودوم: منع مطالبهٔ مصارف سرپرستی.................. ۱۶
مادهٔ بیست وسوم: فرارطفل تحت سرپرستی...................... ۱۶
مادهٔ بیست وچهارم: سرپرستی طفل قبل از انفاذ قانون............. ۱۷
مادهٔ بیست وپنجم: وثیقهٔ سرپرستی............................ ۱۸
مادهٔ بیست وششم: پیشنهاد مقرره ها .......................... ۱۸
مادهٔ بیست وهفتم: تاریخ انفاذ................................ ۱۹

## د ماشومانود سرپرستۍ قانون

## لومړی فصل

## عمومي حکمونه

مبني

**لومړۍ ماده:**

دغه قانون د افغانستان د اساسي قانون د څلور پنځوسمې مادې د حکم په رڼاکې وضع شوی دی.

موخه

**دوه یمه ماده:**

ددې قانون موخې عبارت دي له:

۱- له یتیمو او بې سر پرستو ماشومانو سره ملاتړ او مرسته او د هغو د مادي او معنوي ګټو تأمینول.

۲-د یتیمو او بې سرپرستو ماشومانو د ودې سالمې روزنې، ښوونې او زده کړې د زمینې برابرول.

۳- د یتیمو او بې سرپرستوماشومانود معیشت، روغتیا، جسمي او روحي سلامت تأمینول.

۴- د یتیمو او بې سرپرستو ماشومانو لپاره د سرپرست ټاکل.

## قانون سرپرستی اطفال

## فصل اول

## احکام عمومی

مبنی

**مادۀ اول:**

این قانون درروشنی حکم مادۀ پنجاه وچهارم قانون اساسی افغانستان وضع گردیده است.

هدف

**مادۀ دوم:**

اهداف این قانون عبارت اند از :

۱- حمایت وکمک به اطفال یتیم و بی سرپرست و تأمین منافع مادی ومعنوی آنها.

۲- فراهم نمودن زمینۀ رشد، تربیت سالم، تعلیم وآموزش اطفال یتیم وبی سرپرست.

۳- تأمین معیشت، صحت وسلامت جسمی وروحی اطفال یتیم وبی سرپرست.

۴- تعیین سر پرست برای اطفال یتیم و بی سر پرست.

## اصطلاحگانې

**درېيمه ماده:**

پدې قانون کې لانـدې اصـطلاحگانې لاندېنۍ معناوې افاده کوي:

۱- د ماشوم سرپرستي: هغه ژمنـه دی چې د يتيم او بې سرپرسـته ماشـوم د ساتنې، ښوونې، روزنـې او د مـادي او معنوي اړتياوو د تأمين په منظـور، ددې قانون د حکمونو مطابق صورت مومي.

۲- سرپرست: هغه شخص دی چې پـه داوطلبه توګه د يوهٔ يا څو يتيمو او بـې سرپرستو ماشومانوپه هکله ددې مادې په (۱) جزءکې د درج شوو چارو تأمينول او وارسي کول، د دې قانون د حکمونو مطابق د محکمې له لارې په غاړه اخلي.

۳- بې سرپرسته ماشوم: هغه ماشوم چې د هغهٔ له والدينوڅخه يوئې مړ يا غايب او يا هم د هغهٔ ولي د واکمنې محکمـې د حکم مطابق د حضانت د شـرايطو نـه لرونکی اعلام شوی وي.

۴- مجهول الهويه ماشوم: هغه ماشوم دی چې نسب يې معلوم نه وي.

## اصطلاحات

**مادهٔ سوم:**

اصطلاحات آتی در این قانون معانی ذیل را افاده می نماید:

۱- سرپرستی طفل:تعهدی است که به منظور نگهداری، تعلیم ، تربیت و تأمین مایحتاج مادی و معنوی طفل یتیم و بی سرپرست مطا بق احکام ایـن قـانون صورت می گیرد.

۲- سرپرست: شخصـی اسـت کـه بصورت داوطلبانه تأمین و وارسی امور مندرج جزء (۱) این ماده را در مورد یک یا چند طفل یتیم و بی سرپرسـت مطابق احکام این قانون ازطریق محکمه بعهده می گیرد .

۳- طفل بی سرپرست: طفلی است که یکی از والدین وی فوت یا غایب ویـا هم ولی وی طبق حکـم محکمـهٔ بـا صلاحیت فاقد شرایط حضانت اعـلام شده باشد.

۴- طفل مجهول الهویه : طفلی اسـت که نسب وی معلوم نباشد.

**د توارث نه لرل**

**ځلورمه ماده:**

(۱) سرپرستي، د ارث او نسب او شرعي محرميت حق منځته نه راوړي.

(۲) که چېرې ماشوم د شيدو خوړلو په دوره کې تر سرپرستی لاندې راغلی وي او د سرپرستې کورنی له غړو څخه يو هغهٔ ته شيدې ورکړې، د هغهٔ په هکله د مدني قانون د (۲۳۵) مادې حکم تطبيقېږي.

**دوه يم فصل**

**دسرپرست شرايط ،حقوق او وجايب**

**د سرپرست شرايط**

**پنځمه ماده:**

(۱)دلاندې شرايطولرونکي زوجين کولای شي دماشوم سرپرستي په غاړه واخلي:

۱- مسلمان وي.

۲- د (۳۰) کلنی سن يې بشپړ کړی وي.

۳- له مالي وړتيا څخه برخمن وي.

**عدم توارث**

**مادهٔ چهارم:**

(۱)سر پرستی،حق ارث، نسب و محرميت شرعی راببار نمی آورد.

(۲) هرگاه طفل در دورهٔ شيرخوارگی تحت سر پرستی قرار گرفته ويکی از اعضای خانوادهٔ سرپرست به او شير بدهد، در مورد وی حکم مادهٔ (۲۳۵) قانون مدنی تطبيق می گردد.

**فصل دوم**

**شرايط، حقوق ووجايب سرپرست**

**شرايط سرپرست**

**مادهٔ پنجم:**

(۱) زوجين واجد شرايط ذيل می توانند سرپرستی طفل را بعهده بگيرند:

۱- مسلمان باشند .

۲- سن (۳۰) سالگی را تکميل نموده باشند.

۳- از توانايی مالی برخوردار باشند.

۴- په اخلاقي او د بشري حقوقو پر ضد جرمونو محکوم شوي نه وي.

۵- دمحکمې له خوا د ماشوم له سرپرستۍ اوساتنې څخه منع شوي نه وي.

۶-د محکمې له خوا په حجر محکوم شوي نه وي.

۷- په ساري يا رواني ناروغيو اخته نه وي.

۸- معلول نه وي ،خو داچې دهغو معلوليت دماشوم دسر پرستۍ مانع نه شي.

۹- په مخدره موادو او الکولو روږدي نه وي.

۱۰- په اخلاقي فساد مشهورنه وي.

۱۱- دولي ياوصي د اجازې اخيستل (د موجوديت په صورت کې).

(۲) دافغانستان غير مسلمان تبعه کولای شي د هېواد دغير مسلمان ماشوم سرپرستي د محکمې په اجازه ددغه قانون د حکمونو مطابق په غاړه واخلي.

## دماشوم شرايط

**شپږمه ماده:**

(۱)د لاندې شرايطو لرونکی ماشوم

۴- به جرايم اخلاقی و ضد حقوق بشری محکوم نگرديده باشند .

۵- از طرف محکمه از سرپرستی ونگهداری طفل ممنوع نگرديده باشند.

٦- از طرف محکمه به حجر محکوم نگرديده باشند .

۷- به امراض ساری و روانی مصاب نباشند.

۸- معلول نباشند ، مگر اينکه معلوليت آنها مانع سر پرستی طفل نگردد.

۹- به مواد مخدر و الکول معتاد نباشند.

۱۰- به فساد اخلاقی مشهور نباشند.

۱۱-کسب اجازه ولی يا وصی (در صورت موجوديت ).

(۲) تبعۀ غيرمسلمان افغانستان می تواند سرپرستی طفل غيرمسلمان کشور را به اجازۀ محکمه مطابق احکام اين قانون به عهده بگيرد.

## شرايط طفل

**مادۀ ششم:**

(۱) طفل واجد شرايط ذيل تحت

ترسرپرستۍ لاندې نيول کېدای شي:

۱- د رشد(ودې )سن ته رسېدلی نه وي.

۲- شرعي ولي او وصي و نه لري يا د هغهٔ ولي يا وصي د سرپرستۍ توان و نه لري او يا د محکمې په حکم د واک نه لرونکی اعلام شوی وي.

۳- د ماشومې نجلۍ شرعي محارم د دې فقرې په (۲) جزء کې پر درج شوي حالت برسېره،دهغې له سرپرستۍ څخه ډډه وکړي.

۴- هغهٔ ماشوم چې د هغه والدين په حبس يا توقيف کې وي.

(۲) د ولي او وصي نه لرونکي هغه مجهول الهويه او يتيم ماشوم ساتنه چې ددې قانون د حکمونو په حدودوکې د اشخاصو تر سرپرستۍ لاندې را نه شي، د دولت په غاړه ده.

(۳) د کار او ټولنيزو شهيدانو اومعلولينو چارو وزارت مکلف دی مجهول الهويه شېدې خوړونکی ماشوم او ددې مادې په (۲) فقره کې درج شوي ماشومان، له دولتي ثبت شوو روزنتونونو يا خيريه مؤسسوڅخه په يوه کې تر سرپرستۍ

سرپرستی قرار گرفته می تواند:

۱- به سن رشد نرسيده باشد.

۲- ولی ووصی شرعی نداشته يا ولی و يا وصی وی فاقد توان سرپرستی بوده و يا به حکم محکمه فاقد صلاحيت اعلام شده باشد.

۳- محارم شرعی طفل دختر علاوه بر حالت مندرج جزء (۲) اين فقره، از قبول سر پرستی وی ابا ورزد.

۴- طفلی که والدين وی در حبس ويا توقيف قرار دارند.

(۲) نگهداری طفل مجهول الهويه و يتيم فاقد ولی ووصی که در حدود احکام اين قانون تحت سر پرستی اشخاص قرار نگيرد، به عهدهٔ دولت می باشد.

(۳) وزارت کار و امور اجتماعی شهدا ومعلولين مکلف است طفل شير خوار مجهول الهويه واطفال مندرج فقرهٔ (۲) اين ماده را در يکی از پرورشگاه های دولتی يا مؤسسات خيريه ثبت شده تحت

لاندې ونيسي او ورسره په يوهٔ وخت کې دې دهويت دتثبيت لپاره د هغه رپوټ دکورنيوچارو وزارت دنفوسوداحوالودثبتولواداري ته ولېږي.

## متقابل حقوق او وجايب

**اوومه ماده:**

(۱) د سرپرست او ماشوم متقابل حقوق او وجايب د معاشرت د آدابو د ساتنې، احترام او شفقت له نظره د والدينو او اولادونو ترمنځ د ورته ديني او قانوني حقوقو او وجايبو په شان دي .

(۲) سرپرست ددې قانون د حکمونو مطابق د ولي او وصي مسئوليت لري او په مدني مسايلوکې تر خپلې سرپرستې لاندې د ماشوم له مصالحو څخه ملاتړ او هغهٔ ته د زيان له الحاق څخه ډډه او دفاع کوي.

(۳) سرپرست نشي کولای ماشوم تر وهلو او ټکولو يا جسمي يا رواني تعذيب لاندې ونيسي يا په غيرمجازو يا سختو کارونو يې وګماري.

سر پرستی قرار داده و همزمان راپورآنرا جهت تثبیت هویت به ادارهٔثبت احوال نفوس وزارت امور داخله ارسال نماید.

## حقوق ووجایب متقابل

**مادهٔ هفتم:**

(۱) حقوق ووجایب متقابل سرپرست و طفل از لحاظ نگهداری آداب معاشرت،احترام وشفقت ،شبیه حقوق ووجایب دینی و قانونی بین والدین و اولاد است.

(۲) سرپرست،مطابق احکام این قانون، مسئولیت ولی ووصی را داشته ،در مسایل مدنی ازمصالح طفل تحت سرپرستی خویش حمایت وازالحاق ضرر به وی اجتناب و دفاع می کند.

(۳) سرپرست نمی تواند طفل را مورد لت و کوب یا تعذیب جسمی یا روانی قرارداده و یا بکار های غیر مجاز یا شاقه بگمارد .

(۴)سرپرست مکلف دی دماشوم لپاره دښوونې اوتحصيل يا فني او حرفوي زده کړې زمينه برابره کړي.

(۵) د ماشوم سرپرست کولای شي خپله منقوله يا غير منقوله شتمني د قانون د حکمونو مطابق تر خپلې سرپرستۍ لاندې ماشوم ته اهدأ يا هبه کړي.

## د نکاح د عقد د تصميم موانع

**اتمه ماده:**

سرپرست نشي کولای تر خپلې سرپرستۍ لاندې ماشوم نکاح د عقد په هکله، د قانوني ازدواج سن ته د هغه له رسېدو او د هغهٔ له بشپړرضايت دمخه،تصميم ونيسي.

## دسرپرستۍ غوښتنليک

**نهمه ماده:**

(۱) ددې قانون په پنځمه ماده کې د درج شوو شرايطو لرونکي زوجين کولای شي، د يوهٔ يا څو ماشومانود سرپرستۍ په هکله، واکمنې محکمې ته خپل غوښتنليک وړاندې کړي.

(۴) سرپرست مکلف است زمينهٔ تعليم و تحصيل يا آموزش های فنی وحرفوی را برای طفل فراهم نمايد.

(۵) سرپرست طفل می تواند دارائی منقول يا غيرمنقول خود را مطابق احکام قانون به طفل تحت سرپرستی خود اهدا يا هبه نمايد.

## موانع تصميم عقد نکاح

**مادهٔ هشتم:**

سرپرست نمی تواند در مورد عقد نکاح طفل تحت سرپرستی خود قبل از رسيدن وی به سن قانونی ازدواج ورضايت کامل او ، تصميم اتخاذ نمايد.

## درخواست سرپرستی

**مادهٔ نهم:**

(۱) زوجين واجد شرايط مندرج مادهٔ پنجم اين قانون می توانند، درخواست خود را جهت سرپرستی يک و يا چند طفل به محکمهٔ با صلاحيت ارائه نمايند.

(۲)که چېرې ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوی غوښتنليک ورکوونکی، دمخه له پام وړ ماشوم سره پېژندګلوي ولري يا د هغو يو له خپلوانوڅخه وي، د ماشوم مشخصات،په غوښتنليک کې درج کوي.

(۳) غوښتنليک ورکوونکی مکلف دی، د خپلو عوايدو او شتمنيو مثبته سندونه چې د هغهٔ د مالي ورتيا ښکارندوی وي، له غوښتنليک سره ضميمه کړي.

## د غوښتنليک ورکوونکو تعدد

لسمه ماده:

د غوښتنليک ورکوونکو د تعدد په صورت کې، محکمه کولای شي ددې قانون د حکمونو او د ماشوم د ګټو او مصلحت له په پام کې نيولو سره په لاندې ترتيب سره غوښتنليک ورکوونکو ته، د لومړيتوب حق ورکړي:

۱-له عصباتو څخه د قُرابت د درجې له په پام کې نيولو سره د ماشوم نسبي خپلوان.

۲-له ذوی الارحامو څخه د قُرابت د درجې له په پام کې نيولو سره د ماشوم

(۲) هرگاه درخواست دهنده مندرج فقرهٔ (۱) این ماده قبلاً با طفل مورد نظر شناسائی داشته یا یکی ازاقارب وی باشد، مشخصات طفل را درج درخواست نماید.

(۳)درخواست دهنده مکلف است،اسناد مثبته عواید ودارائی خودرا که مبین توانائی مالی او باشد، ضمیمهٔ درخواست نماید.

## تعدد درخواست کنندگان

مادهٔ دهم:

در صورت تعدد در خواست کنندگان ، محکمه می تواند با نظرداشت احکام این قانون ومنافع و مصلحت طفل به ترتیب ذیل به درخواست کنند گان ، حق تقدم بدهد :

۱- اقارب نسبی طفل از عصبات با رعایت درجهٔ قرابت .

۲- اقارب طفل از ذوی الارحام با رعایت درجهٔ

خپلوان.

۳-هغه زوجين چې اولاد نه لري.

۴-هغه زوجين چې دمخه يې په برياليتوگه د بل ماشوم سرپرستي کړې وي.

**د نفقې د نه تأمينولوله امله د ماشوم تر سرپرستۍ لاندې راوستل**

**يوولسمه ماده:**

هغه والدين چې د ماشوم د نفقې د تأمينولو توان ونه لري، کولای شي له هغوخپلوانو يا زوجينو څخه يوه ته چې د ماشوم سرپرستۍ ته لېوالتيا ولري، خپل ماشوم ددې قانون د حکمونو مطابق تر سرپرستۍ لاندې ورکړي.

## دريم فصل

## قضايي اجرآت

**د محکمې تصميم**

**دوولسمه ماده:**

محکمه د ماشوم د سرپرستۍ د غوښتنليک له ترلاسه کولو وروسته، دماشوم دسرپرستۍ دغوښتنليک ورکوونکي شرايط په پنځمه ماده کې د

قرابت .

۳- زوجينی که اولاد ندارند.

۴- زوجينی که قبلاً طفلی ديگری را طور موفقانه سرپرستی کرده اند.

**تحت سرپرستی قرار دادن طفل نسبت عدم تأمين نفقه**

**مادۀ يازدهم:**

والدينی که توانائی تأمين نفقۀ طفل را نداشته باشند، می توانند به يکی از اقارب يا زوجين که متمايل به سر پرستی طفل باشند، مطابق احکام اين قانون طفل خودرا تحت سرپرستی قراردهند.

## فصل سوم

## اجرآت قضائی

**تصميم محکمه**

**مادۀ دوازدهم:**

محکمه بعد از دريافت درخواست سرپرستی طفل، شرايط درخواست کننده سرپرستی طفل را طبق حکم مندرج مادۀ پنجم و

درج شوي حکم مطابق اودماشوم وضعيت ددې قانون په شپږمه ماده کې د درج شوي حکم مطابق تشخيص او تثبيتوي او پدې هکله تصميم نيسي.

## د غوښتنليک ورکوونکي ژمنه

**ديارلسمه ماده:**

(۱) د ماشوم د سرپرستۍ غوښتنليک ورکوونکی مکلف دی، د لاندې مواردو ژمنه وکړي:

۱- له ماشوم څخه ناوړه ګټه نه اخيستل يا ناجايزه ګټه کول.

۲- د تر سرپرستۍ لاندې ماشوم په هکله د شريعت د حکمونو، اسلامي آدابو او اخلاقو اوقوانينو په پام کې نيول.

۳- ددې قانون د حکمونو په حدودوکې له ماشوم څخه دوارسۍ اوساتنې په اړه ژمنه.

۴- دماشوم له وضعيت څخه محکمې ته کلني اوعندالضرورت درپوټ وړاندې کول.

(۲) سرپرست ژمنه کوي چې په هيڅ صورت د ماشوم د سرپرستۍ په کارکې

وضعيت طفل را مطابق حکم مندرج مادۀ ششم اين قانون تشخيص وتثبيت نموده و در مورد تصميم اتخاذ می نمايد.

## تعهد درخواست کننده

**مادۀ سيزدهم:**

(۱) درخواست کنندۀ سر پرستی طفل، مکلف است موارد ذيل را تعهد نمايد:

۱-عدم سوء استفاده يا بهره کشی از طفل.

۲-رعايت احکام شريعت ، آداب و اخلاق اسلامی وقوانين در خصوص طفل تحت سر پرستی .

۳-تعهد مبنی بر وارسی و مواظبت از طفل در حدود احکام اين قانون.

۴- ارائه گزارش سالانه وعندالضرورت از وضعيت طفل به محکمه.

(۲) سرپرست تعهد می کند که در هيچ صورت در امرسر پرستی طفل اهما ل و

لتي او غفلت نه کوي، د محکمې له استيذان پرته د خپل ژمنو د له سرته رسولو څخه مخ نه اړوي.

## د ماشوم مصلحت په پام کې نيول

**څوارلسمه ماده:**

(۱) محکمه په هرحالت کې د ماشوم ګټې او مصلحت ته لومړيتوب ورکوي او پدې قانون کې پر درج شوو شرايطو برسېره، کولای شي، سرپرست د نورو شرايطو په پام کې نيولو سره هم ملزم کړي.

(۲) محکمه د ماشوم د خپلوانو شکايت اوري او پدې هکله له سرپرست څخه د څرګندونو غوښتنه کوي او د ماشوم د مصالحو مطابق، مقتضي تصميم نيسي.

## آزمايښتي سرپرستي

**پنځلسمه ماده:**

محکمه کولای شي د لزوم په صورت کې د يوې آزمايښتي دورې لپاره د ماشوم د سرپرستي په اړه قرار ، تر شپږو مياشتو مودې پورې صادرکړي.

غفلت نکرده بدون استيذان محکمه از ايفای تعهدات خود صرف نظر نمی نمايد.

## رعايت مصلحت طفل

**مادۀ چهاردهم:**

(۱)محکمه در هر حالت منفعت و مصلحت طفل رامقدم شمرده ومی تواند علاوه بر شرايط مندرج اين قانون، سرپرست را ملزم به رعايت شرايط ديگری نيز نمايد.

(۲)محکمه شکايات اقارب طفل را استماع نموده و در زمينه از سر پرست توضيحات مطالبه و مطابق مصالح طفل ، تصميم مقتضی اتخاذ می نمايد .

## سرپرستی آزمايشی

**مادۀ پانزدهم:**

محکمه می تواند در صورت لزوم قرارمبنی بر سرپرستی طفل را برای يک دورۀ آزمايشی، الی مدت شش ماه صادر نمايد.

**د ودې تر مرحلې پورې د سرپرستۍ د قرار صادرول**

**شپاړسمه ماده:**

(۱) محکمه کولای شي د سرپرست د رپوټ او معلوماتو له اخیستلو وروسته د لازمو پلټنو په پای کې، آزمایښتي دوره تمدید اویا د سرپرستۍ قرار دودې مرحلې ته د ماشوم تر رسېدو پورې، صادرکړي.

(۲) محکمه مکلفه ده ، دمجهول الهویه ماشوم دسرپرستۍ په هکله قرار د کورنیو چارو وزارت د نفوسو د احوالو د ثبت اودبهرنیانودچارو دڅېړنې ادارې ته دثبت په منظور ولېږي.

**له هېواد څخه د ماشوم ویستل**

**اوولسمه ماده:**

(۱) سرپرست نشي کولای ماشوم له هېواد څخه بهر له ځان سره بوځي، خو داچې پدې هکله یې د واکمنې محکمې اجازه اخیستې وي.

(۲)محکمه د اجازې د صادرولو په وخت کې د ماشوم مصلحت په پام کې نیسي.

**صدور قرار سرپرستی الی مرحلهٔ رشد**

**مادهٔ شانزدهم:**

(۱) محکمه می تواند بعد از اخذ معلومات وگزارش سر پرست در پایان بررسی های لازم، دورهٔ آزمایشی را تمدید ویا قرار سرپرستی را الی رسیدن طفل به مرحلهٔ رشد، صادر نماید.

(۲)محکمه مکلف است، قرار سرپرستی در مورد طفل مجهول الهویه را به ادارهٔ ثبت احوال نفوس وبررسی امورخارجیان وزارت اموداخله به منظور ثبت ارسال نماید.

**خروج طفل از کشور**

**مادهٔ هفدهم:**

(۱) سرپرست نمی تواند طفل را به خارج از کشور با خود ببرد، مگر اینکه اجازهٔ محکمهٔ با صلاحیت را در مورد کسب نموده باشد.

(۲) محکمه حین صدور اجازه مصلحت طفل را درنظر می گیرد.

(۳) د اجازې په صورت کې له هېواد څخه د ماشوم د وتلو په اړه، سرپرست مکلف دی، د ماشوم د اوضاعو او احوالو په اړه خپل رپوټ په کال کې یوځل د افغانستان سیاسي یا قونسلي نمایندګۍ ته وړاندې کړي.

(۴)په هغه صورت کې چې دماشوم مصالح له خطرسره مخامخ وي، د افغانستان سیاسي یا قونسلي نمایندګي مکلفه ده، موضوع د بهرنیو چارو وزارت له لارې اړوندې محکمې ته وړاندې کړي.

## څلورم فصل

## د سرپرستۍ انصراف او فسخ

### له سرپرستۍ څخه انصراف

اتلسمه ماده:

د تر سرپرستۍ لاندې ماشوم سرپرست او اولیا کولای شي د ژمنې د انصراف یا فسخې په اړه خپل غوښتنلیک واکمنې محکمې ته وړاندې کړي.

(۳) در صورت اجازه مبنی بر خروج طفل از کشور، سرپرست مکلف است، گزارش خود را در مورد اوضاع و احوال طفل در سال یکبار به نمایندگی سیاسی یاقونسلی افغانستان ارائه نماید.

(۴) نمایندگی سیاسی یا قونسلی افغانستان مکلف است، در صورتیکه مصالح طفل به خطر مواجه باشد، موضوع را از طریق وزارت امور خارجه به محکمهٔ مربوط ارائه نماید.

## فصل چهارم

## انصراف وفسخ سرپرستی

### انصراف از سرپرستی

مادهٔ هجدهم:

سرپرست و اولیای طفل تحت سر پرستی می توانند درخواست خویش را مبنی بر انصراف یا فسخ تعهد به محکمهٔ با صلاحیت، ارائه نماید.

## د فسخې غوښتنه

**نولسمه ماده:**

(۱) که چېرې سرپرست، د ماشوم د سرپرستۍ د فسخې د قرار غوښتنه وکړي، محکمه د ماشوم د مصلحت او ګټو او د غوښتنليک ورکوونکي د د لايلو له په پام کې نيولو سره، د ماشوم د سرپرستۍ قرار فسخ کوي.

(۲) ماشوم کولای شي ،د جسمي او رواني روغتيا په حال کې، ددې قانون دشپږمې مادې په (۱)جزء کې مندرج سن ته درسېدو وروسته له سرپرست سره يوځای دخپل ژوند د دوام يا د هغه د پايته رسولو لپاره، د محکمې په حضورکې موافقه وکړي.

(۳) د سرپرستۍ د قرار د فسخې په صورت کې، موضوع د ماشوم دخپلوانوپه خبرتيا رسول کېږي، محکمه د ماشوم د راتلونکي برخليک په هکله لازم تصميم نيسي.

## تقاضای فسخ

**مادۀ نزدهم:**

(۱) هرگاه سرپرست ، تقاضای فسخ قرار سرپرستی طفل را نماید، محکمه با نظر داشت مصلحت و منافع طفل و دلایل درخواست کننده، قرار سرپرستی طفل را فسخ می نماید.

(۲) طفل می تواند در حال صحت جسمی و روانی بعد از اکمال سن مندرج جزء(۱) مادۀ ششم این قانون به دوام زندگی خود همراه با سرپرست یا پایان دادن به آن ،در حضور محکمه توافق نماید.

(۳) در صورت فسخ قرار سرپرستی، موضوع به اطلاع اقارب طفل رسانیده شده محکمه راجع به سرنوشت آیندۀ طفل تصمیم لازم اتخاذ می نماید.

**د شرايطو نشتوالي او د سرپرست مړينه**

**شلمه ماده:**

(۱) که چېرې سرپرست، ددې قانون په پنځمه ماده کې له درج شوو شرايطوڅخه يو له لاسه ورکړي يا مړشي، محکمه د سرپرستۍ قرار فسخ کوي او ماشوم دولتي روزنتون يا ثبت شوې خيريه مؤسسې ته تسليموي.

(۲) که چېرې د سرپرست د زوجيت اړيکه منحله شي، محکمه دماشوم د ګټې او مصلحت د اصل د لومړيتوب له په پام کې نيولو سره کولای شي، ماشوم له هغو څخه يوهٔ يا بل سرپرست ته چې د شرايطو وړ وي يا ثبت شوي روزنتون يا خيريه مؤسسې ته، تسليم کړي.

**د سرپرستۍ لغو کول**

**يوويشتمه ماده:**

محکمه کولای شي د ماشوم د سرپرستۍ قرار چې په دې قانون کې د درج شوو حکمونو مطابق صادر شوی دی، په لاندې مواردوکې لغو او سرپرست د قانون د

**فقدان شرايط وفوت سر پرست**

**مادهٔ بيستم:**

(۱) هرگاه سرپرست يکی از شرايط مندرج مادهٔ پنجم اين قانون را از دست بدهد يا فوت نمايد، محکمه قرار سرپرستی را فسخ و طفل را به پرورشگاه دولتی يا مؤسسهٔ خيريهٔ ثبت شده، تسليم می نمايد.

(۲) هرگاه رابطهٔ زوجيت سرپرست منحل گردد، محکمه با نظر داشت اصل تقدم منفعت و مصلحت طفل می تواند ، طفل را به يکی از آنان يا سرپرست ديگری که واجد شرايط باشد يا به پرورشگاه ويا مؤسسهٔ خيريهٔ ثبت شده ، تسليم نمايد.

**لغو سرپرستی**

**مادهٔ بيست و يکم:**

محکمه می تواند قرار سرپرستی طفل را که مطابق احکام مندرج اين قانون صادر گرديده است در موارد ذيل لغو و سرپرست را طبق احکام قانون مجازات

حکمونو مطابق مجازات کړي:

۱- د ناوړه چلند، وهلـو او ټکولـو، جسمي تعذيب يا تهديد په صورت کې.

۲- ددې قانون په اوومه ماده کې د درج شووحکمونو د نه په پام کې نيولـو پـه صورت کې.

۳- له ماشوم څخـه د نـاوړې ګټـې اخيستنې يا په مخدره موادو او الکولو د هغهٔ د معتادولو په صورت کې.

۴- د ګدايي عمل يا سختو کارونو يـا جنسي ناوړې ګټې اخيستنې او د اخلاقي ضد فلمونو او تصويرونو (پورنوګرافی) د برابرولو او هغو ته ورتـه د ماشـوم د مجبورولو په صورت کې.

۵- په باندونو يا جنايت کارانه فعاليتونو، د انسان په قاچاق ، مخدره موادو يا پـه تروريستي ګروپونوکې همکاري يا فحشا او نورو غير قانونی کړونو ته، د ماشوم د هڅولو په صورت کې.

نمايد :

۱- در صورت بدرفتاری ، لت وکوب، تعذيب جسمی يا تهديد .

۲- درصورت عدم رعايـت احکـام منـــدرج مـــادهٔ هفـــتم ايـــن قانون.

۳- درصورت سوء استفاده از طفل يا معتـــاد نمـــودن وی بـــه مواد مخدرو الکول.

۴- درصـــورت اجبـــار طفـــل بـــه عمـــل گـــدايی يـــا کـــار شـــاقه و يـــا بهـــره کشـــی جنســـی و تهيـــه فلـــم وتصـــاوير منـــافی اخلاق (پورنوگرافی) و امـــثال آن.

۵- درصورت تشويق طفل به همکاری در باندها يا فعاليتهای جنايتکارانه، قاچاق انسان ، مواد مخدر يـــا گـــروه هـــای تروريستی وتشويق به فحشا وساير اعمال غير قانونی.

## پنځم فصل

## وروستني حکمونه

**د سرپرستۍ د لګښتونو د غوښتنې منع**

**دوه ويشتمه ماده:**

د ماشوم سرپرستي داوطلبانه او تبرعي (وړيا) ده، سرپرست نشي کولای د ماشوم د سرپرستۍ د دورې د لګښتونو غوښتنه وکړي.

**تر سرپرستۍ لاندې ماشوم تېښته**

**درويشتمه ماده:**

(۱) که چېرې سرپرست ته د ماشوم تېښته متصوره وي هغه مکلف دی، اړوندې محکمې ته خبرورکړي.

(۲) محکمه ددې مادې په (۱) فقره کې په درج شوي حالت کې کولای شي د ماشوم د مصلحت او ګټې له په پام کې نيولو سره د ماشوم د سرپرستۍ قرار فسخ او د هغهٔ دتسليمۍ قرار دولتي ثبت شوو روزنتونونو يا خيريه مؤسسو ځخه يوې ته، صادر کړي.

## فصل پنجم

## احکام نهائی

**منع مطالبهٔ مصارف سرپرستی**

**مادهٔ بيست ودوم:**

سرپرستی طفل داوطلبانه و تبرعی (مجانی) بوده،سرپرست نمی تواند مصارف دورهٔ سرپرستی طفل را مطالبه نمايد.

**فرار طفل تحت سرپرستی**

**مادهٔ بيست وسوم:**

(۱) هرگاه فرار طفل نزد سرپرست متصور باشد او مکلف است، به محکمهٔ مربوط اطلاع دهد.

(۲) محکمه می تواند در حالت مندرج فقرهٔ (۱)اين ماده با درنظر داشت مصلحت و منفعت طفل قرار سرپرستی طفل را فسخ و قرار تسليمی وی را به يکی ازپرورشگاه های دولتی يا مؤسسات خيريه ثبت شده ، صادر نمايد.

(۳) محکمـــه مکلفـــه ده د ماشـــوم د سرپرستۍ د قرار نقل (کاپۍ )چې دولتي روزنتون يا ثبت شوې خيريه مؤسسې ته صادروي، د کـــار او ړنـــولنيزو چـــارو، شهيدانو او معلولينو وزارت ته ولېږي.

(۴) د کار او ټولنيزو چارو، شهيدانو او معلولينو وزارت مکلف دی وخـــت پـــه وخت د دولتي ثبت شوو روزنتونونو يـــا خيريه مؤسسو تـــر سرپرســـتۍ لانـــدې ماشومانو، څارنه وکړي او دهغو رپـــوټ اړوندې محکمې ته وړاندې کړي.

## دقانون له نافذېدو څخه دمخه د ماشوم سرپرستي

### څلېريشتمه ماده:

هغه اشخاص چې ددې قانون له نافذېدو څخه دمخه ئی ماشومان تـــر سرپرســـتۍ لاندې نيولي او ددې قانون په پنځمه ماده کې د درج شوو شرايطو لرونکـــي وي، مکلف دي ددې قانون له نافذېدوڅخه د يوکال مودې په تـــرڅ کـــې د خپلـــې سرپرستۍ غوښتنليک اړوندې محکمې ته وړاندې کړي.

(۳)محکمه مکلف است نقل(کاپی) قرار سرپرستی طفل را که بـــه پرورشـــگاه دولتی یامؤسسۀخیریۀ ثبت شده صادرمی نماید،بـــه وزارت کارواموراجتمـــاعی، شهداومعلولین ارسال نماید.

(۴) وزارت کار و امور اجتماعی ، شهدا و معلولین مکلف است وقتاً فوقتـــاً از اطفال تحت سر پرستی پرورشگاه های دولتی یا مؤسسات خیریه ثبت شـــده، نظارت نموده و گزارش آنرا به محکمۀ مربوط ارائه نماید.

## سرپرستی طفـــل قبـــل از انفـــاذ قانون

### مادۀ بیست وچهارم:

اشخاصی کـــه قبـــل از انفـــاذ ایـــن قـــانون ، اطفـــالی را تحـــت سرپرستی گرفته اند و واجـــد شـــرایط منـــدرج مـــادۀ پـــنجم ایـــن قـــانون باشند، مکلف اند در خلال مدت یکسال بعد از انفاذ ایـــن قـــانون درخواســـت سرپرستی خویش را به محکمۀ مربـــوط ارائه نمایند.

**د سرپرستۍ وثیقه**

**پنځه ویشتمه ماده:**

دماشوم د سرپرستۍ په اړه د محکمـــې قرار په هغه وثیقه کې چې د هغه ډول او محتوي د ســـترې محکمـــې لـــه خـــوا تصویبیږي، درجیږي او دوثیقې یو نقـــل دخبرتیا لپاره دټولنیزو چارو،شـــهیدانواو معلولینو وزارت ته استول کیږی .

**د مقررو وړاندیز**

**شپږویشتمه ماده:**

دکار او ټـــولنیزو چـــارو، شـــهیدانو او معلولینو وزارت کولای شي ددې قانون د حکمونو د ښه تطبیق په منظور، مقـــررې وړاندیز او لوایح او کـــړنلارې وضـــع کړي.

**د نافذېدو نېټه**

**اووه ویشتمه ماده:**

دغه قانون په رسمي جریده کې د خپرېدو له نېټې څخه یو میاشت وروسته نافذېږي.

**وثیقۀ سرپرستی**

**مادۀ بیست وپنجم:**

قرار محکمه مبنی بر سرپرستی طفل در وثیقۀ که شکل ومحتوای آن از طـــرف ستره محکمه تصویب می گردد ، درج می شود ویک نقل وثیقه جهت آگاهی به وزارت کار وامور اجتمـــاعی، شـــهدا ومعلولین فرستاده می شود.

**پیشنهاد مقرره ها**

**مادۀ بیست و ششم:**

وزارت کار و امور اجتماعی شـــهدا و معلولین می تواند به منظور تطبیق بهتـــر احکام این قانون، مقرره ها را پیشنهاد و لـــوایح وطرزالعمـــل هـــا را وضـــع نماید.

**تاریخ انفاذ**

**مادۀ بیست وهفتم:**

این قانون یکماه بعد ازنشر درجریـــدۀ رسمی نافذ می گردد.

## د ځانګړو محکمو د تشکيل اوواک د قانون دتوشېح په هکله،دافغانستان داسلامي جمهوريت درئيس فرمان

ګڼه:(۱۳٦)

نېټه: ۱۳۹۲/۱۲/۳

**لومړۍ ماده:**

د افغانستان د اساسي قانون د (٦۴) مادې د (۱٦) فقرې د حکم له مخې، د ځانګړو محکمو د تشکيل او واک قانون چې د ملي شوري د مجلسينو د ګډ هيئت د ۱۳۹۲/۱۰/۳۰ نېټې (۱۱۱) ګڼې پريکړې پربنسټ، په (۴) فصلونو او (۲۲) مادو کې تصويب شوی دی، توشېح کوم.

**دوه يمه ماده:**

دغه فرمان له قانون او ملي شوري د مجلسينو د ګډ هيئت له پرېکړې سره يوځای دې په رسمي جريده کې له خپرېدو څخه وروسته، نافذ شي.

حامد کرزی

دافغانستان داسلامي جمهوريت رئيس

## فرمان رئيس جمهوری اسلامی افغانستان در مورد توشيح، قانون تشکيل وصلاحيت محاکم خاص

شماره: (۱۳٦)

تاريخ: ۱۳۹۲/۱۲/۳

**ماده اول:**

به تأسی از حکم فقرهٔ (۱٦) مادهٔ (٦۴) قانون اساسی افغانستان، قانون تشکيل وصلاحيت محاکم خاص را که بر اساس فيصلهٔ شماره(۱۱۱) مؤرخ ۱۳۹۲/۱۰/۳۰ هيئت مختلط مجلسين شورای ملی بداخل (۴) فصل و(۲۲) ماده به تصويب رسيده است،توشيح می دارم.

**مادهٔ دوم:**

اين فرمان همراه با قانون وفيصلهٔ هيئت مختلط مجلسين شورای ملی بعد از نشر در جريدهٔ رسمی نافذ گردد.

حامد کرزی

رئيس جمهوری اسلامی افغانستان

دافغانستان اسلامي جمهوري دولت

ملي شوري

ګڼه: (۱۱۱)

نېټه: ۳۰/ ۱۰/ ۱۳۹۲

## د ځانګړو محکمو د تشکيل او واک قانون

د افغانستان د اساسي قانون د سلمې مادې له درج شوي حکم سره سم، د ملي شوري د هرې جرګې له اوو، اوو تنو غړو څخه جوړ شوی د مجلسينوګډ هيئت دځانګړو محکمو د تشکيل او واک قانون له يو شمېر تعديلونو سره په (۴) فصلونو او (۲۲) مادو کې د ۳۰/ ۱۰/ ۱۳۹۲ نېټې په غونډه کې فيصله کړ.

د ګډ هيئت رئيس

مولوي غلام محي الدين منصف

دګډ هيئت مرستيال

څارنوال عبدالرووف انعامي

دولت جمهوری اسلامی افغانستان

شورای ملی

شماره: (۱۱۱)

تاریخ: ۱۳۹۲/۱۰/۳۰

## قانون تشکيل وصلاحيت محاکم خاص

به تأسی از حکم مادهٔصدم قانون اساسی افغانستان، هيئت مختلط مجلسين شورای ملی به ترکيب هفت، هفت نفر ازاعضای هر جرگه قانون تشکيل وصلاحيت محاکم خاص را با يک سلسله تعديلات به داخل (۴) فصل و (۲۲) ماده د رجلسهٔ مؤرخ ۱۳۹۲/۱۰/۳۰ فيصله نمود.

رئيس هيئت مختلط

مولوی غلام محی الدين منصف

معاون هيئت مختلط

څارنوال عبدالرووف انعامی

## فهرست مندرجات

## قانون تشکیل و صلاحیت محاکم خاص

### فصل اول

### احکام عمومی


| ماده | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| مادۀ اول: | مبنی | ۲۰ |
| مادۀ دوم: | اهداف | ۲۰ |
| مادۀ سوم: | ساحۀ تطبیق | ۲۱ |


### فصل دوم

### کشف، تحقیق واقامۀ دعوی


| | | |
|---|---|---|
| مادۀ چهارم: | کشف وتحقیق جرم | ۲۲ |
| مادۀ پنجم : | هیئت تحقیق | ۲۲ |
| مادۀ ششم : | انفصال مؤقت | ۲۳ |
| مادۀ هفتم : | مطالبۀ توقیف | ۲۴ |
| مادۀ هشتم : | مدت تحقیق | ۲۴ |
| مادۀ نهم : | محل تحقیق | ۲۵ |
| مادۀ دهم : | اقامۀ دعوی | ۲۵ |

## فصل سوم

## محکمۀ خاص

مادۀ یازدهم: تشکیل محکمۀ خاص........................................۲۶
مادۀ دوازدهم: سوگند....................................................۲۷
مادۀ سیزدهم: استقلالیت محکمۀ خاص.....................................۲۷
مادۀ چهاردهم: مستند حکم...............................................۲۸
مادۀ پانزدهم: علنیت محاکمه..............................................۲۸
مادۀ شانزدهم: ذکراسباب حکم درفیصله....................................۲۹
مادۀ هفدهم: مراحل رسیدگی..............................................۲۹
مادۀ هجدهم: انحلال محکمۀ خاص........................................۲۹

## فصل چهارم

## احکام متفرقه

مادۀ نزدهم: حقوق دورۀ انفصال..........................................۳۰
مادۀ بیستم: مهر............................................................۳۰
مادۀ بیست ویکم: مقر محکمه...............................................۳۱
مادۀ بیست ودوم: انفاذ.......................................................۳۱

## د ځانګړو محکمو د تشکیل
## او واک قانون
## لومړی فصل
## عمومي حکمونه

**مبني**

**لومړۍ ماده:**

دغه قانون د افغانستان د اساسي قانون په اته اویایمه او یوسلو اووه ویشتمه ماده کې د درج شوو حکمونو له مخې، وضع شوی دی.

**موخې**

**دوه یمه ماده:**

ددې قانون موخې عبارت دي له :

۱- دوزیر (د حکومت د غړي) او دسترې محکمې د رئیس اوغړي د جرمونو د کشف، تحقیق ، د دعوي د اقامې او په رسیدګۍ پورې داړوندوچارو تنظیمول.

۲- د کشف او تحقیق د مراجعو د دندو او واکونو او ددې مادې په (۱) جزء کې د درج شوو اشخاصو د محکمې د تشکیل اود محاکمې دکړنلارې

## قانون تشکیل وصلاحیت
## محاکم خاص
## فصل اول
## احکام عمومی

**مبنی**

**مادهٔ اول:**

این قانون به تأسی از احکام مندرج مواد هفتاد وهشتم ویکصدو بیست وهفتم قانون اساسی افغانستان وضع گردیده است.

**اهداف**

**مادهٔ دوم:**

اهداف این قانون عبارت اند از:

۱- تنظیم امور مربوط به کشف ، تحقیق، اقامهٔ دعوی و رسیدگی به جرایم وزیر (عضوحکومت ) ورئیس وعضوستره محکمه.

۲- تنظیم وظایف وصلاحیت های مراجع کشف و تحقیق و تشکیل محکمه و طرزالعمل محاکمهٔ اشخاص مندرج جزء (۱)

تنظيمول.

۳- د قانون د حاكميت د اصل په پام كې نيول او د عادلانه محاكمې تأمينول.

**د تطبيق ساحه**

**درېيمه ماده:**

ددې قانون حكمونه په لاندې اشخاصو باندې تطبيقېږي:

۱- برحال وزير او هغه وزيران چې د حكومت د تشكيل له نېټې څخه د افغانستان د اساسي قانون د يوسلو يوشپېتمې مادې په (۲) فقره كې د درج شوي حكم پربنسټ تاكل شوي او دندې د تصدۍ په وخت كې د جرم مرتكب شوي وي.

۲- د سترې محكمې رئيس او غړي چې د سترې محكمې د تشكيلېدو له نېټې څخه د افغانستان داساسي قانون د يو سلو يو شپېتمې مادې په (۲) فقره كې د درج شوي حكم پر بنسټ ټا كل شوي او د دندې د تصدۍ په وخت كې د جرم مرتكب شوي وي.

اين ماده.

۳- رعايت اصل حاكميت قانون وتأمين محاكمهٔ عادلانه.

**ساحهٔ تطبيق**

**مادهٔ سوم :**

احكام اين قانون بالای اشخاص ذيل تطبيق می گردد:

۱ – وزير بر حال و وزرائی كه از تاريخ تشكيل حكومت به اساس حكم مندرج فقرهٔ (۲) مادهٔ يكصدو شصت ويكم قانون اساسی افغانستان تعيين وحين تصدی وظيفه مرتكب جرم گرديده باشند.

۲- رئيس و عضو ستره محكمه كه از تاريخ تشكيل ستره محكمه به اساس حكم مندرج فقرهٔ (۲) مادهٔ يكصدو شصت ويكم قانون اساسی افغانستان تعيين وحين تصدی وظيفه، مرتكب جرم گرديده باشند.

## دوه يم فصل

## كشف، تحقيق او د دعوي اقامه

**د جرم كشف او تحقيق**

**ځلورمه ماده:**

(۱) ددې قانون د دريیمې مادې په (۱) جزء کې درج شوی وزير ( دحکومت غړي) ته د منسوبو جرمونو کشف او تحقيق د افغانستان د اساسي قانون په يو سلو ځلور دېرشمه ماده کې د درج شوي حکم له په پام کې نيولو سره،ددې قانون دحکمونو مطابق صورت مومي.

(۲) د سترې محکمې رئيس او غړي ته د منسوبو جرمونو کشف او تحقيق د افغانستان د اساسي قانون په يوسلو اووه ويشتمه ماده کې د درج شوي قانون د حکمونو په حدودو کې صورت مومي.

**د تحقيق هيئت**

**پنځمه ماده:**

(۱) ددې قانون د دريیمې مادې په (۱) جزء کې د درج شوو اشخاصو د جرمونو تحقيق د دوو تنو مسلکي مجربو او لوړ

## فصل دوم

## كشف، تحقيق و اقامهٔ دعوى

**كشف و تحقيق جرم**

**مادهٔ چهارم:**

(۱)کشف و تحقيق جرايم منسوب به وزير (عضو حکومت) مندرج جزء (۱) مادهٔ سوم اين قانون بارعايت حکم مندرج مادهٔ يکصدوسی وچهارم قانون اساسی افغانستان،مطابق احکام اين قانون صورت می گيرد.

(۲) کشف و تحقيق جرايم منسوب به رئيس و عضو ستره محکمه با رعايت حکم مندرج مادهٔ يکصدوبيست و هفتم قانون اساسی افغانستان در حدود احکام اين قانون صورت می گيرد.

**هيئت تحقيق**

**مادهٔ پنجم :**

(۱) تحقيق جرايم اشخاص مندرج جزء (۱) مادهٔ سوم اين قانون توسط دو نفر

رتبه څارنوالانو په واسطه، د لوی څارنوال تر رياست لاندې صورت مومي.

(۲) د سترې محکمې رئيس او غړي ته د منسوبو جرمونو تحقيق د افغانستان د اساسي قانون په يو سلواووه ويشتمه ماده کې د درج شوي حکم له په پام کې نيولو سره، د ولسي جرګې له يوه تن غړي چې په عدلي او قضايي چاروکې کاري سابقه ولري، د هغې جرګې د رئيس په معرفي، او دولسي جرګې د عمومي مجلس تأييد، دمشرانو جرګې له يوه تن غړي چې په عدلي او قضايي چاروکې کاري سابقه ولري دهغې جرګې د رئيس په معرفي او د مشرانو جرګې د عمومي مجلس د تأييد، لوی څارنوال، دسترې محکمې د عالي شوري په ټاکنه د سترې محکمې ديوه غړي څخه د جوړ هيئت په واسطه صورت مومي. هيئت خپل رئيس له خپله منځه ټاکي.

څارنوال مسلکی مجرب و عالی رتبه تحت رياست لوی څارنوال صورت می گيرد.

(۲) تحقيق جرايم منسوب به رئيس وعضو ستره محکمه با رعايت حکم مندرج مادهٔ يکصدوبيست هفتم قانون اساسی افغانستان، توسط هيئت متشکل از يکنفر از اعضای ولسی جرگه که سابقهٔ کاری در امور عدلی و قضائی داشته باشد، به معرفی رئيس آن جرگه، و تائيد مجلس عمومی ولسی جرگه ، يک نفر از اعضای مشرانوجرگه که سابقهٔ کاری در امور عدلی وقضائی داشته باشد به معرفی رئيس آن جرگه وتائيد مجلس عمومی مشرانو جرگه، لوی څارنوال ويکی از اعضای ستره محکمه به انتخاب شورای عالی ستره محکمه صورت می گيرد.هيئت رئيس خود را از بين شان انتخاب می کنند.

## مؤقت انفصال

**شپږمه ماده:**

که چېرې د جرم په ارتکاب لــه تــورن برحال وزير څخه د تحقيق جريان د هغه د توقيف غوښتنه وکړي، د لوی څارنوال په وړانديز او د جمهور رئيس په منظورۍ له دندې څخه موقتاً منفصل کېږي.

## د توقيف غوښتنه

**اوومه ماده:**

(۱) که چېرې ددې قانون په درېيمه ماده کې له درج شوو اشخاصو څخه د تحقيق جريان د تورن د توقيف غوښتنه وکړي، د توقيف اجازه د تحقيق درئيس په وړانديز له ځانګړې (خاصې) محکمــې څخــه اخيستل کېږي.

(۲) د توقيف موده له احوالو سره ســم زيات نه زيات د دوو مياشتو مودې لپاره تمديدېدای شي له دوو مياشتو څخه زياته د تمديد موده، ددې قانون په اتمه مــاده کې د درج شوواحوالو اوشرايطو تابع ده.

(۳) ددې ډول اشخاصو توقيف، له نورو توقيف شوو څخه جلا په توقيف ځای کې

## انفصال مؤقت

**مادۀ ششم:**

هرگاه جريان تحقيق از وزير بـــــر حال متهم به ارتکاب جرم، ايجاب توقيف وی را نمايد، به پيشـــنهاد لـــوی څـارنـول ومنظوری رئيس جمهوراز وظيفه موقتـــاً منفصل می گردد.

## مطالبۀ توقيف

**مادۀ هفتم:**

(۱) هرگاه جريان تحقيق از اشخاص مندرج مادۀ سوم اين قانون ايجاب توقيف متهم را نمايد، اجازۀ توقيف به پيشنهاد رئـــــيس تحـــــقيق از محـــــکمۀ خـــاص،اخذ مـــــی گردد.

(۲) مدت توقيف حســب احـــــوال حداکثربرای مدت دوماه تمديد شده می تواند، تمديد توقيف بيش از دو ماه تابع احـــوال وشرايط مندرج مادۀ هشتم اين قانون می باشد.

(۳) توقيف چنين اشخاص جدا از ساير توقيف شده گان در توقيف خانه صورت

صورت مومي.

**د تحقیق موده**

**اتمه ماده:**

ددې قانون په درېیمه ماده کې د درج شوو اشخاصو تحقیق، له احوالو سره سم زیات نه زیات تر دوو میاشتو مودې پورې بشپړېږي. که چېرې د مؤجهو دلیلو نو له مخې تحقیق د دوو میاشتو په موده کې بشپړ نشي،دڅانگړې محکمې رئیس کولی شي دتحقیق موده ترنورو دوو میاشتو پورې د تحقیق هیئت په وړاندیز تمدید کړي.

**د تحقیق ځای**

**نهمه ماده:**

ددې قانون په درېیمه ماده کې له درج شوو اشخاصو څخه تحقیق، د تحقیق دهیئت له صوابدید سره سم په مناسب ځای کې صورت مومي.

**د دعوي اقامه**

**لسمه ماده:**

ددې قانون په درېیمه ماده کې د درج شوو تورنو پرعلیه د دعوي اقامه، د اړوند

می گیرد.

**مدت تحقیق**

**مادهٔ هشتم:**

تحقیق اشخاص مندرج مادهٔ سوم این قانون، حسب احوال حد اکثر الی مدت دوماه تکمیل می گردد.

هرگاه بنابر دلایل مؤجه، تحقیق در مدت دو ماه تکمیل شده نتواند، رئیس محکمهٔ خاص می تواند مدت تحقیق را الی دوماه دیگر به پیشنهاد هیئت تحقیق تمدید نماید.

**محل تحقیق**

**مادهٔ نهم:**

تحقیق از اشخاص مندرج مادهٔ سوم این قانون حسب صوابدید هیئت تحقیق در محل مناسب، صورت می گیرد.

**اقامهٔ دعوی**

**مادهٔ دهم:**

اقامهٔ دعوی علیه متهمین مندرج مادهٔ سوم این قانون توسط څارنوال که جزء

تحقیق د څارنوال په وسیله،چې دهیئت جزء دی د اساسي قانون د ۱۳۴ مادې داحکامو مطابق.

## دریم فصل

## ځانګړې محکمه

### د ځانګړې محکمې تشکیل

**یوولسمه ماده:**

(۱) د وزیر د محاکمې په منظور د سترې محکمې ځانګړې محکمه ، د سترې محکمې دریو غړوپه ترکیب، تشکیلیږي.
د محکمې رئیس او غړي د سترې محکمې د عالي شوري په تصویب ټاکل کیږي.

(۲) د سترې محکمې د رئیس او غړي د محاکمې په منظور، ځانګړې محکمه، د شپږ تنو په ترکیب په لاندې توګه تشکیلیږي:

۱- د ولسي جرګې له غړو څخه دوه تنه چې حقوق پوهان او په عدلي او قضایي چارو کې د کافي تجربې لرونکي وي، د نوموړې جرګې په تصویب .

۲- د مشرانو جرګې له غړو څخه دوه

هیئت تحقیق مربوطه می باشد مطابق به احکام مادهٔ ۱۳۴ قانون اساسی صورت می گیرد.

## فصل سوم

## محکمهٔ خاص

### تشکیل محکمهٔ خاص

**مادهٔ یازدهم:**

(۱) محکمهٔ خاص به منظور محاکمهٔ وزیر مرکب از سه عضو ستره محکمه تشکیل می گردد.
رئیس واعضای محکمه به تصویب شورای عالی ستره محکمه تعیین می شوند.

(۲) محکمهٔ خاص به منظور محاکمهٔ رئیس وعضو ستره محکمه ، مرکب از شش نفر به ترتیب ذیل تشکیل می گردد:

۱- دو نفر از اعضای ولسی جرگه که حقوقدان ودارای تجربهٔ کافی در امور عدلی و قضائی باشند به تصویب جرگهٔ مذکور.

۲- دونفرازاعضای مشرانو جرگه که

تنه چي حقوقپوه او په عدلي او قضـايي چارو كې د كافي تجربې لرونكي وي د نومورې جرگې په تصويب .
۳- د سترې محكمې له غړو څخه دوه تنه دسترې محكمې دعالي شـوري پـه تصويب.
۴- هـيئت خپـل رئيس له خـپله منځه ټاكي.

سوګند

دوولسمه ماده:

ددې قانون د يوو لسمې مادې پـه (۲) فقره كې د درج شوې ځانګړې محكمې غړي د دندې له اجراء څخه د مخـه ، لاندې حلف د جمهوررئيس په حضوركې پرځاى كوي:

د لوى خداى (ج) په نامه سوګند يادوم چې حق او عدالت به د اسلام د سپېڅلي دين ، د اساسي قانون د نصو صـو او د افغانستان د نورو قوانينو دحكمونو مطابق تأمينوم او دقضاوت دنده په بشپړ امانت ، صداقت او بې طرفۍ سره اجراء كوم.

حقوقدان ودارای تجربۀ كافی در امور عدلی وقضائی باشند،به تصويب جرگۀ مذكور.
۳- دو نفر از اعضای ستره محكمه به تصـويب شـورای عـالی سـتره محكمه.
۴- هيئت رئيس خود را از بين شـان انتخاب می كند.

سوگند

مادۀ دوازدهم:

اعضای محكمۀ خاص مندرج فقرۀ (۲) مادۀ يازدهم اين قانون، قبل از اجـرای وظـيفه ، حلـف آتـی را بـه حـضور رئيس جمـهور بجا مـی آورند:

بنام خداوند بزرگ (ج) سوگند ياد می كنم كه حق وعدالت را طبق احكام دين مقدس اسلام، نصوص قـانون اساسـی وسـاير قـوانين افغانسـتان تـأمين نموده، وظيفۀ قضاوت را با كـمال امانت، صداقت و بی طرفی اجراء نمايم.

**د ځانګړې محکمې خپلواکي**

**ديارلسمه ماده:**

ځانګړې محکمه د قضيې درسيدګۍ پــر وخت خپلواکه ده،خپل حکم دهغه قناعت پربنسټ چې ورته دليلونو له وړاندې کولو څخه رامنځته کېږي، د قانون دحکمونو په حــدودوکې صــادروي. د ځــانګړې محکمې په واسطه رسيدګي او د حکــم صادرول د قانون اومحکمې په وړاندې د قضيې د اړخونــو د تســاوۍ د اصــل پربنسټ د عدالت او ناپلوۍ د په نظر کې نيولو سره صورت مومي.

**د حکم مستند**

**څوارلسمه ماده:**

ځانګړې محکمه په رسيدګۍ وړ قضــيو کې، د افغانستان د اساسي قانون، دغــه قانون او نورو نافذه قوانينــو حکمونــه تطبيقوي.

**د محاکمې علنيت**

**پنځلسمه ماده:**

ځانګړې محکمه ، محاکمه په ښکارنــد ډول دايروي،خو داچې د مصلحت يا د

**استقلاليت محکمهٔ خاص**

**مادهٔ سيزدهم:**

محــــکمهٔ خاص حين رسيــدگی قضيه مستقل بوده، حکم خود را بر اســاس قناعتی که از دلايل ارايه شــده نزد آن فراهــم می شود ، در حــدود احکام قانون صادر می نمايد. رسيدگی و اصدار حــکم توســط محــــکمهٔ خــاص بر اساس اصـــل تساوی طرفـــين قضيه در برابر قانون و محــــکمه بــا رعايــت عــدالت و بيطرفی صــورت می گيــــرد.

**مستند حکم**

**مادهٔ چهاردهم :**

محکمهٔ خاص د رقضايای مورد رسيدگی احکام قانون اساسی افغانستان، اين قانون وســاير قــوانين نافــذه را تطبيـــق می نمايد.

**علنيت محاکمه**

**مادهٔ پانزدهم:**

محکمهٔ خاص، محاکمه را بصورت علنی داير می نمايد،مگر اينکه بنابر مصلحت

آدابو يا عامه نظم پربناً، د غونډې نه ځرګندوالی تجويز شي. د حکم اعلام په هر حال کې په ځرګنده توګه صورت مومي.

## په فيصلې کې د حکم د اسبابو ذکر

**شپاړسمه ماده:**

ځانګړې محکمه، مکلفه ده د حکم اسباب چې صادروي يې په فيصله کې ذکر کړي.

## د رسيدګۍ پړاوونه

**اوولسمه ماده:**

د ځانګړې محکمې فيصله قطعي وروستۍ(نهايي) ده د استيناف وړ نده.

## د ځانګړې محکمې انحلال

**اتلسمه ماده:**

(۱) ځانګړې محکمه د حکم له صادرولو او ارخونو ته له ابلاغ او د فيصلې له ليکلو څخه وروسته منحلېږي.

(۲) د ځانګړې محکمې فيصله د تنفيذ په غرض د څارنوالۍ ادارې ته استول کېږي، د فيصلې اصل او نور سندونه او پاڼې فهرستېږي اوسترې محکمې ته لېږل کېږي

يارعايت آداب يا نظم عامه،غير علنی بودن جلسه تجويز گردد.اعلام حکم در هر حالت طور علنی صورت می گيرد.

## ذکر اسباب حکم در فيصله

**مادهٔ شانزدهم :**

محکمهٔ خاص مکلف است اسباب حکمی راکه صادر می کند ،در فيصله ذکر نمايد .

## مراحل رسيدگی

**مادهٔ هفدهم :**

فيصلهٔ محکمهٔ خاص قطعی و نهايی بوده، قابل استيناف نمی باشد.

## انحلال محکمهٔ خاص

**مادهٔ هجدهم:**

(۱)محکمهٔ خاص بعد از اصدار حکم و ابلاغ آن به طرفين و تحرير فيصله منحل می گردد.

(۲)فيصلهٔ محکمهٔ خاص غرض تنفيذ به ادارهٔ څارنوالی ارسال، اصل فيصله و ساير اسناد و اوراق فهرست و به ستره محکمه فرستاده شده و در آرشيف آن

او د هغې په آرشيف کې ساتل کېږي.

## ځلورم فصل

## متفرقه حکمونه

**د انفصال د دورې حقوق**

**نولسمه ماده:**

( ۱) ددې قانون په دريمه ماده کې د درج شوو اشخاصو د حقوقو او امتيازونو اجراء کول د عزل، له دندې څخه د انفصال، توقيف او محاکمې په حالاتوکې ځنډېږي.

(۲) که چېرې د تحقيق هيئت يا محکمه د دعوي د اقامه کولو د نه لزوم قرار صادر او يا محکمه د تورن په برائت حکم وکړي، د تعليق د دورې معاش او نور حقوق او امتيازونه هغه ته ورکول کېږي.

**مهر**

**شلمه ماده:**

ځانګړې محکمه د مخصوص مهر لرونکې ده چې په هغه کې د افغانستان د اسلامي جمهوريت نښان او د محکمې نوم حک او د محکمې له انحلال وروسته سترې محکمې ته سپارل کېږي.

حفظ می شود.

## فصل چهارم

## احکام متفرقه

**حقوق دورهٔ انفصال**

**مادهٔ نزدهم:**

(۱)اجرای حقوق و امتيازات اشخاص مندرج مادهٔ سوم اين قانون در حالات عزل ، انفصال از وظيفه توقيف و محاکمه معطل قرار داده می شود.

(۲) هرگاه هيئت تحقيق يا محکمه قرار عدم لزوم اقامه دعوی را صادر و يا محکمه به برائت متهم حکم نمايد، معاش و ساير حقوق و امتيازات دورهٔ تعليق به وی پرداخته می شود.

**مهر**

**مادهٔ بيستم:**

محکمهٔ خاص دارای مهر مخصوص می باشد که در آن نشان دولت جمهوری اسلامی افغانستان و اسم محکمه حک و بعد از انحلال محکمه به ستره محکمه سپرده می شود.

**د محکمې مقر**

**یوویشتمه ماده:**

د ځانګړې محکمې مقر د کابل په ښــار کې دی.

**انفاذ**

**دوه ویشتمه ماده:**

دغه قانون په رسمي جریده کې د خپرېدو له نېټې څخه نافذ او په نافذېدو سره یې د ۴/ ۵/ ۱۳۸۹ نېټې په (۱۰۳۳) ګڼــه رسمی جریده کې خپور شوی د ځانګړو محکمو د تشکیل او واک قانون ملغــي کېږي.

**مقر محکمه**

**مادۀ بیست ویکم:**

مقر محکمۀ خــاص در شــهر کابــل می باشد.

**انفاذ**

**مادۀ بیست و دوم:**

این قانون از تاریخ نشر در جریدۀ رسمی نافذ وبــا انفــاذ آن قــانون تشــکیل و صلاحیت محاکم خــاص منتشــره جریــده رســمی شــماره (۱۰۳۳) مــــورخ ۴/ ۵/ ۱۳۸۹ ملغــــی می گردد .

# اشتراک سالانه:

**در مرکـــــــز و ولایــــــات : (۹۰۰) افغـــــانی**

**بـــرای مـــامورین دولـــت: بـــا ۲۵ فیصـــد تخفیـــف**

**برای متعلمین و محصلین با ارائـــه تصـــدیق، نصـــف قیمـــت**

**برای کتاب فروشی ها با ۱۰ فیصد تخفیف از قیمت روی جلد**

**خـــارج از کشـــور: (۲۰۰) دالـــر امریکـــائی**

ISLAMIC REPUBLIC
OF
AFGHANISTAN
MINISTRY OF JUSTICE

# OFFICIAL GAZETTE

- Children Guardianship Law .
- Law on Structure and Jurisdiction of Especial Courts .

Date: ١٢th *APRIL.* ٢٠١٤
ISSUE NO :(١١٣٠)